# د جُمادَی الاُولٰی
# او جُمادَی الاُخرٰی فیضان

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د جُمادَی الاُولٰی او جُمادَی الاُخرٰی فیضان [1]

دُعائے عطّار: یا رَبِّ مصطفٰے! څوک چې دا رساله"د جُمادَی الاُولٰی او جُمادَی الاُخرٰی فیضان" اولولي یا واوري، د هغه د اسلامي میاشتو ادب نصیب کړې او هغه د مور پلار سره بے حسابه اوبخښي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبـي، رسولَ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے! مسلمان چې تر څو پورې په ما باندې دُرُود شریف لولي، فرښتې په هغه باندې رحمتونه لیږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زیات. ( ابن ماجه ، 1 / 490 ، حدیث : 907 )

بیٹھتے، اُٹھتے، جاگتے، سوتے

ہو الٰہی مرا شِعار دُرُود

(ذوقِ نعت ، ص 124)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... دا رساله د مکتبة المَدینة د کتاب "اسلامی مهینوں کے فضائل "نه د جمادی الاولٰی او جمادی الاخرٰی د میاشتو په مناسبت سره جوړه کړے شوې ده. (شعبه هفته وار رساله مطالعه)



www.dawateislami.net

## د ”جُمادَی الاُولیٰ“ او ”جُمادَی الاُخرٰی“ د نوم ايښودو وجه

د اسلامي کال پينځمه مياشت ”جُمادَی الاُولیٰ“ او شپږمه ”جُمادَی الاُخرٰی“ ده. د اسلامي مياشتو تعلق د مياشت ليدلو سره دے او د مياشت د ګردش په وجه په دې مياشتو کښې موسم بدليږي. يو موسم چې په يوه مياشت کښې راشي نو په راتلونکو يو څو کالو کښې هغه موسم په بَله يوه مياشت کښې راځي، ځکه موسم د اسلامي مياشتو سره نشو خاص کولے خو کله چې د دې مياشتو نومونه ايښودے کيدل په هغه وخت کښې به په دې پينځمه او شپږمه مياشت کښې دومره يخني وه چې اوبه به جم کيدلې او د جُمادَي معنیٰ ده ”جم کيدل“ په دې مناسبت سره پينځمې مياشتې ته ”جُمادَی الاُولیٰ“ او شپږمې مياشتې ته ”جُمادَی الاُخرٰی“ وئيلے کيدله.

(تفسير ابن کثير ، التوبة ، تحت الآية : 36 ، 4 / 129 )

## صحيح نوم او صحيح تلفظ [1]

د لغت په لحاظ سره د دې دواړو مياشتو صحيح نوم او صحيح تلفظ دا دے: جمادی الاُول (جُ.مَ.ا.دَ.لْ.اُ.و.لیٰ) جمادی الاُخرٰی(جُ.مَ.ا.دَ.لْ.اُ.خْ.رٰی) او جمادي الآخِره (جُ.مَ.ا.دَ.لْ.آ.خِ.رَ.هْ).

1 ... مشهور نحوي امام فَراء وائي:كُلُّ الشُّهُوْرِ مُذَكَّرَةٌ اِلَّا جُمَادَيَيْن يعنې د ټولو مياشتو نومونه مذکر دي د دوو جمادي مياشتو نه علاوه (يعنې جُمادَی الاُولیٰ او جُمادَی الاُخرٰی يا الآخرة) د دې دواړو نومونه مؤنث دي- ( الشماريخ فی علم التاريخ ، ص13)

چې لفظ ”جماديٰ“مؤنث دے نو د دې صفت به هم مؤنث ذِکر کولے شي ځکه دې ”جمادي الاوّل“او”جمادي الآخر“نه وئيلے کيږي ځکه چې ”الاوّل“ او ”الآخر“مذکر دي بلکه ”جمادَی الاُولیٰ“ او ”جمادَی الاُخرٰی“ وئيل پکار دي- هم داسې دې شپږمې مياشتې ته ”جمادَي الثَّانی“ هم نه وئيلے کيږي ځکه چې ثاني په هغه ځائے کښې راځي په کوم ځائے کښې چې د دې نه پس ثالث (دريم) هم وي ولې دلته دريم نشته.

(غياث اللغات ، باب الجيم ، ص 194-195)



www.dawateislami.net

## جُمادَی الاُولٰی دې څنګه تيره کړے شي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** مونږ له د خپل آخرت د بهترئ د پاره ټول کال د فرضو او واجبو د پابندئ سره سره نفلي عبادتونه هم کول پکار دي ځکه چې الله پاک د خپلو بندګانو په نيک عمل باندې د فضل او رحم باران وَرَوي، خاص طور په مخصوصو ورځو او په دغه شپو کښې د هغه د رحمت دريابونه نور هم په چپو شي، د هغه د رحمت موندلو او د عبادت د شوق زياتولو د پاره په دې کښې په خاص عبادتونو او اَورادو او وظيفو باندې د اَجر او ثواب زيري ورکړے شوي دي. د جُمادَی الاُولٰی په مياشت کښې هم د عبادت د شوق زياتولو او د ښه ډير اجر او ثواب ګټلو د پاره د بزرګانِ دِين معمولات او د هغوئي نه منقول عبادتونه او څه اَوراد او وظيفے دلته نقل کولے شي، الله کريم ته سوال دے چې مونږ له په دې محترمه مياشت کښې د خپلې رضا او خوشحالئ د پاره د ښه ډيرو عبادتونو کولو توفيق راکړي.

## د وړومبئ شپې نفلونه

په جواهرِ خمسه کښې دي د جُمادَی الاُولٰی په وړومبي تاريخ به صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم شل رکعته لمُونځ کولو او په هر رکعت کښې به ئي د سورهٔ فاتحه نه پس يو ځل سورهٔ اخلاص ﴿قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ لوستلو. د لمُونځ فارغيدو نه پس به ئي سل ځله درود شريف لوستلو. (جواهرِخمسه، ص21)

د مفتئ اعظم هند خليفه، فيضِ مِلّت، حضرت علّامه مفتي محمد فيض احمد اُوَيسي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: اِنۡ شَآءَ اللّٰه! د دې لمُونځ په برکت به الله پاک د بے شميره لمُونځونو ثواب عطا کړي. (اسلامی مہینوں کے فضائل ومسائل ، ص 65 )



www.dawateislami.net

په جواهرِ خمسه کښې دي: په وړومبۍ شپه دې دوه رکعته داسې ادا کړي چې په وړومبي رکعت کښې دې د سورۂ فاتحه نه پس سورۂ جمعه او په دويم کښې دې سورۂ مزمل اولولي. (جواهرخمسه ، ص 21 )

څوک چې د دې مياشت په وړومبۍ شپه او وړومبۍ ورځ څلور رکعته لمُونځ اوکړي او په هر رکعت کښې د (سورۂ فاتحه نه پس) يولس ځله سورۂ اخلاص ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴾ اولولي نو الله پاک د 90 کالو عبادت [ثواب] د هغه په اعمال نامه کښې د ليکلو حکم کوي او د 90 زره کالو ګناهونه د هغه د اعمال نامے نه ورانوي۔(جواهر غيبي ، ص 618 )

حضرت علّامه مفتي محمد فيض احمد اويسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې په وړومبي تاريخ د ماښام د لمَانځه نه پس 8 رکعته لمُونځ په څلورو سلامونو سره کول دي، په وړومبي او دويم رکعت کښې د سورۂ فاتحه نه پس سورۂ اخلاص ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴾ يولس يولس ځله اولولۍ. دا لمُونځ ډير افضل دے او د دې د کولو سره به اِنْ شَآءَ الله! د بے شميره عبادتونو ثواب د پاک پروردګار د طرف نه عطا کړے شي. ( اسلامی مہينوں کے فضائل ومسائل ، ص65 )

## د دريمې شپې نفلونه

په جواهرِ خمسه کښې دي: په دريمه شپه دې شل رکعته په لسو سلامونو سره اوکړياو په هر رکعت کښې دې د سورۂ فاتحه نه پس لس لس ځله سورۂ قدر اولولي. د لمُونځ نه پس دې تر سحره پورې دا تسبيح لولي: يَاعَظِيْمُ تَعَظَّمْتَ بِعَظَمَتِكَ وَالْعَظَمَةُ فِيْ عَظَمَتِكَ يَاعَظِيْم. (ترجمه: اے عظمت والا! تۀ د خپل لوئےوالي په وجه عظمت والا ئې او اے عظمت والا! حقيقي لوئے والے هم ستا د پاره دے.) (جواهرخمسه ، ص21)

## د اوويشتمي شپې نفلونه

په جواهرِ خمسه کښې دي: د دې مياشتې په اوويشتم تاريخ 8 رکعته د دوو سلامونو سره اوکړئ او په هر رکعت کښې د سورۂ فاتحه نه پس سورۂ وَالضحیٰ يو يو ځل اولولئ بيا دا تسبيح اولولئ: ”سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ“ (ترجمه: پاک دے، بے عيبه دے د فرښتو او روحِ رَبّ.) (جواهر خمسه ، ص 22. لطائف اشرفی ، 2 / 231)

## د جُمادَی الاُولٰی روژې

حضرت شاه کليمُ الله شاه جهان آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې مياشتې په دويمه، دولسمه او يويشتمه باندې د روژې نيولو ډير ثواب دے. (مرقع کليمي ، ص199. جواهر غيبي ، ص 618 )

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جُمادَی الاُخرٰی دې ښنګه تيره کړے شي؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ټولو مياشتو په شان جُمادَی الأُخرٰی هم د ډير خير او برکت مياشت ده او د دې مياشتې عبادت ډير افضل دے. دا مياشت د رجب د مياشت د هر کلي [يعني استقبال مياشت] ده لکه چې د دې د عبادت مقصد د رجب د مياشت حُرمت دے. د دې مياشتې مبارکې په باره کښې د بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم نه خاص عبادتونه او نفلونه منقول دي د کومو د اختيارولو سره چې د الله پاک رضا او خوشحالي او د دې مياشتې برکتونه حاصليدے شي.



www.dawateislami.net

# د جُمادَی الاُخرٰی روژې

په جُمادَی الاُخرٰی کښې د روژو نيولو په باره کښې حضرت شاه کليمُ الله شاه جهان آبادي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د دې مياشتې په وړومبي، پينځلسم او آخري تاريخ باندې د روژې نيولو ډير ثواب دے. ( مرقع کليمي ، ص 199)

# د وړومبۍ شپې نفلونه

په جواهرِ خمسه کښې دي: د جُمادَی الاُخرٰی په وړومبۍ شپه دوه رکعته لمُونځ اوکړۍ او د سلام نه پس ښه ډير استغفار اوکړۍ. (جواهر خمسه، ص 22)

# ټول کال د لاس تنګۍ نه حفاظت

کوم کَس چې دولس رکعته د شپږو سلامونو سره اوکړي او په هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس سورۀ قريش ﴿لِاِیْلٰفِ قُرَیْشٍ﴾ اولولي او د لمُونځ فارغيدو نه پس د سورۀ يوسف تلاوت اوکړي الله کريم به هغه د تنګ لاسۍ او غريبۍ نه تر يو کاله پورې محفوظ اوساتي. (جواهر خمسه، ص 22)

فيضِ مِلت، حضرت علامه مفتي محمد فيض احمد اويسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بزرګانِ دين (رَحْمَةُاللهِعَلَيْه) نه منقول دي چې په دې مياشت کښې څوک څلور رکعته نفل ادا کړي او په هر رکعت کښې (د سورۀ فاتحه نه پس) سورۀ اخلاص ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ ديارلس (13) ځله اولولي نو الله کريم د هغه بے شميره ګناهونه معاف کوي او د هغه په اعمال نامه کښې ډيرې نيکۍ ليکي. (اسلامی مہینوں کے فضائل ومسائل ، ص67 )

## د حُرمت او عظمت زيرے

فيضِ مِلّت، حضرت علامه مفتي محمد فيض احمد اُوَيسي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کَس چې د جُمادَی الاُخرٰی د يويشمې شپې نه تر آخري تاريخ پورې هره شپه د ماسخُتن لمَانځه نه پس شل رکعته لمُونځ په لسو سلامونو سره اوکړي او په هر رکعت کښې د سورۂ فاتحه نه پس سورۂ اخلاص ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ يو ځل اولولي الله پاک دې لمُونځ کوونکي ته حُرمت او عظمت عطا کوي. (اسلامی مہینوں کے فضائل ومسائل ، ص 70)

په جواهرِ خمسه کښې دي: د يويشمې شپې نه به تر آخري تاريخ پورې ډيرو صحابۂ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان هره شپه شل رکعته لمُونځ کولو. (جواهرِ خمسه، ص 22)

## د آخرئ شپې اعمال

ډيرو صحابۂ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان به د دې مياشتې په آخرئ عشره کښې د رَجَبُ المُرَجَّب د هر کلي د پاره روژې نيولې. (جواهرِ خمسه، ص 22)

فيضِ مِلّت، حضرت علامه مفتي محمد فيض احمد اُوَيسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جُمادَی الاُخرٰی په آخري تاريخ باندې روژه نيول د رجب شريف د هر کلي د پاره غوره ده. (اسلامی مہینوں کے فضائل ومسائل ، ص 70)

حضرت علامه عبدُ الرَّحمان ابنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 597ھ) فرمائي: انسان له پکار دي چې د رجب شريف د راتللو نه وړاندې د رجب د هر کلي د پاره خپل ځان د ګناهونو نه پاک صفا کړي، په خپله هره خطا هره ګناه باندې پښيمانه او ملامته شي او د


www.dawateislami.net

الله پاک په بارګاه کښې توبه کړي او د توبے په ذريعه خپل زړه د ګناهونو د ګند نه پاک کړي. ( النور فی فضائل الایام والشہور ، ص 129)

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جُمادَی الاُولٰی او جُمادَی الاُخرٰی مختلف عبادتونه

بعضې نیکئ داسې دي د کومو په ذريعه چې هره میاشت اجر او ثواب ګټلے کيدے شي. د فرضو د پابندئ سره سره په جُمادَی الاُولٰی او جُمادَی الاُخرٰی کښې د دې نیکو هم اهتمام اوکړئ او د الله پاک نه ښه ډير رحمتونه او برکتونه حاصل کړئ.

## د روژې د پاره د میاشتې افضلې ورځې

حضرت امام غزالي رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د هرې میاشتې د افضلو ورځو په باره کښې فرمائي: د میاشتې وړومبئ، مینځنئ او آخرئ ورځ او په مینځ کښې ورځې ایامِ بیض یعنې د میاشتې دیارلسم، څوارلسم او پینځلسم تاریخ. دا فضیلت والا ورځې دي په دې کښې روژه نیول او ښه ډير خیراتونه کول مستحب عمل دے د پاره د دې چې د دې وختونو په برکت سره د دې اجر دوه چنده (غبرګ) شي. ( احیاء العلوم ، 1 / 318 ملتقطا)

د حضرت ابوذر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: اے ابوذر! چې کله تهٔ د هرې میاشتې درې روژې نیسې نو د دیارلسمې، څوارلسمې او پینځلسمې نیسه. (ترمذی ، 2 / 193 ، حدیث : 761 )

حضرت ابو عثمان نَهدي رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې زه تر اووه ورځو پورې د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ میلمه ووم. ما پوښتنه اوکړه: ”اے ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ! تاسو څنګه روژې



www.dawateislami.net

نیسئ یا ستاسو روژې څنګه وي؟“ اوئې فرمائيل: ”زه د هرې مياشتې په شروع کښې درې روژې نيسم او که چرې څه ناروغتيا راشي نو د مياشتې په آخره کښې درې روژې نيسم.“ ( مسند احمد ، 3 / 268 ، حديث : 8641 مختصراً)

## د ټولې مياشتې ثواب

د اعلیٰ حضرت، امام اهلسنت، مولانا امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په بارګاه کښې عرض اوکړے شو: ” په اَيامِ بيض کښې د روژې نيولو سره د ټولې مياشت ثواب ميلاويږي؟“ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”آو! په ورومبي، دويم، دريم يا ديارلسم، څوارلسم، پينځلسم يا اوويشتم، اتويشتم، نهه ويشتم په دې کښې چې په کومه ورځ روژه اونيسې د ټولو ثواب يو شان دے. ( ملفوظات اعلی حضرت ، ص 419)

په يو روايت کښې دي سرورِ کونين صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ايامِ بيض کښې د دريو ورځو روژو نيولو حکم کولو او فرمائيل به ئې: دا د يوے مياشتې د روژو برابرې دي. ( نسائی ، ص397 ، حديث : 2427)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هرې مياشت په ايامِ بيض کښې د روژو نيولو ترغيب ارشاد فرمائيلے دے او بزرګانِ دين د هرې مياشتې د روژو د پاره افضل ورځې بيان فرمائيلې دي څکه مونږ له پکار دي چې په دې مياشتو کښې هم روژې اونيسو د پاره د دې چې ښه ډير رحمتونه او برکتونه حاصل شي.

## د مومن د سپرلي موسم

په شروع کښې اووئيلے شو چې کله د مياشتو نومونه کېښودے شول نو په هغه وخت کښې به په پينځمه او شپږمه قمري مياشت کښې ډيره زياته يخني وه د کومې په وجه چې د



www.dawateislami.net

پینځمې نوم جُمادَی الاُولٰی او د شپږمې میاشتې نوم جُمادَی الاُخرٰی کیښودے شو. په دې مناسبت سره دلته په یخنئ کښې د کیدونکو نیکو په باره کښې د بزرګانِ دین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم یو څو اقوال او واقعات نقل کولے شي.

## روژه اونیسئ او قیام اوکړئ

که یخني وي او که ګرمي! هر موسم د عبادت موسم دے خو په یخنئ کښې په کم وخت کښې ډیر ثواب ګټل نسبتاً آسان دي ځکه چې د یخنئ ورځې ورې وي، شپې اوګږدے او موسم یخ وي. لکه څنګه چې حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: د یخنئ موسم د مومن د پاره د سپرلي موسم دے چې په دې کښې ورځې ورې وي نو مومن په دې کښې روژه نیولے شي او د دې شپې اوګږدے وي نو هغه په دې کښې قیام (یعني نفلونه) کوي. ( شعب الایمان ، 3 / 416 ، حدیث : 3940)

یخني د مومن بنده د پاره ځکه د سپرلي موسم دے چې هغه په دې موسم کښې د فرمانبردارئ په باغونو کښې وي او د عبادتونو په میدانونو کښې په قلاره ګرځي د دې سره سره په یخنئ کښې په آسانئ سره د ادا کیدونکو نیک اعمالو په باغیچه کښې زړه او ذهن تازه کوي. لکه څنګه چې د سپرلي په موسم کښې په ښید [چراګاه] کښې څاروي سَریږي او ښه څاربه او صحت مند شي هم داسې د یخنئ په موسم کښې چې الله پاک د خپلو عبادتونو کومې آسانئ عطا کړې دي د دې په برکت د مومن بنده دین او ایمان هم ښه صحت مند کیږي ځکه چې کله د یخنئ موسم راشي نو مومن بنده د لوږې او تندې د خوارئ نه بغیر د ورځې روژه نیولے شي چې ورځ وړه او شپه غټه وي ځکه د روژې تکلیف نه محسوسیږي. ( لطائف المعارف ، ص 372)



www.dawateislami.net

## یخ غنیمت

خوږ آقا، مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: ” د یخنئ روژې یخ غنیمت دے.“ (ترمذی ، 2 / 210 ، حدیث : 797 )

د دې په شرح کښې دي: د یخنئ روژو ته د یخ غنیمت فرمائیلو وجه دا ده چې دا داسې مالِ غنیمت دے کوم چې بغیر د څه جنګ، سترې والي یا خوارئ نه بغیر په لاس راځي ځکه مجاهِد دا غنیمت په آسانئ سره حاصل کړي. ( لطائف المعارف ، ص 372 )

## په عبادتونو کښې د زیاتوالي موسم

زمونږه بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د یخنئ په موسم راتللو باندې خوشحالیدل او دا به ئې په عبادت کښې د زیاتوالي موسم ګرځولو، لکه څنګه چې حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به د یخنئ په موسم راتللو باندې فرمائیل: یخنئ ته دې هر کلے وي، په دې کښې د الله پاک رحمتونه نازلیږي چې د شپې شوګیرې کوونکي د پاره د دې شپې اوګږدې او د روژه نیوونکي د پاره ورځې لنډې وي. ( مسند الفردوس ، 4 / 164 ، حدیث : 6513)

د دې فرمان په شرح کښې دي: د یخنئ شپې اوګږدې وي ځکه دا ممکن وي چې د شپې په یوه حصه کښې آرام اوکړے شي او بیا یوه حصه په عبادت کښې تیره کړے شي. داسې مومن بنده لمُونځ اوکړي، د قرآنِ پاک خاص تلاوت اوکړي او بدن ته د ده د ضرورت مطابق د خوب موقع هم میلاؤ شي دغه شان د یخنئ په شپو کښې مسلمان خپله دیني فائده هم حاصله کړي او د هغه بدن ته راحت هم میلاؤ شي. ( لطائف المعارف ، ص 372)



www.dawateislami.net

## په یخنئ کښې د عبادت په باره کښې د بزرګانِ دِین اقوال

د الله پاک نیکانو بندګانو به د یخنئ په ورځو کښې عبادت محبوب ګڼلو. حضرت یحیٰ بن معاذ رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شپه اوګږده ده، دا په خوب باندې مه وړه کوئ او ورځ پاکه ده هغه په ګناهونو باندې مهٔ ګنده کوئ. (صفة الصفوة، 4/ 87)

حضرت حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یخني د مومن بنده څومره ښه زمانه ده! شپه اوګږده وي بنده په شپه کښې د لمُونځ د پاره اودریږي او ورځ وَړه وي نو بنده روژه نیسي. ( لطائف المعارف ، ص 373)

کله به چې د یخنئ موسم راغے نو حضرت عبید بن عمیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائیل: اے قرآن والؤ! ستاسو د قرآن لوستلو د پاره شپه اوګږده شوې ده څکه په قیام کښې ښه تلاوت اوکړئ او ستاسو د روژې د پاره شپه وَړه شوې ده څکه روژې اونیسئ. ( احادیث الشتاء ، ص 98 )

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د یخنئ په وجه په عبادت کښې سستي مه کوئ بلکه د یخنئ په خوارئ باندې د صبر کولو سره "اَفضَلُ الاَعمَالِ اَحمَزُهَا" یعنې د ټولو نه افضل عمل هغه دے په کوم کښې چې ډیره خواري وي." ( تفسیر کبیر ، البقرة ، تحت الآیة :34 ، 1 / 431) باندې عمل اوکړئ او هغه بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم یاد کړئ کومو چې به په سخته یخنئ کښې ټوله شپه د الله کریم په عبادت کښې تیروله، د خوب تښتولو د پاره به ئې په یخو اوبو اودس کولو.



www.dawateislami.net

## په یخنۍ کښې د بزرګانِ دین د عبادتونو حکایتونه

(1) حضرت امام مالک بن انس رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: حضرت صفوان بن سُلیم زُهري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ به په یخنۍ کښې په چت باندې او په ګرمۍ کښې په کور کښې دننه لمُونځ کولو او تر سحره پورې به د یخنۍ او ګرمۍ په وجه باندې بیدار اوسیدلو او د الله پاک په بارګاه کښې به ئې عرض کولو: اے الله پاکه! دا د صفوان د طرف نه کوشش دے او تهٔ ښه پوهیږې. ( حلية الاولياء، 3 / 186 ، رقم : 3645)

(2) حضرت صفوان او نورو بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم به د یخنۍ په شپو کښې په یوه جامه کښې لمُونځ کولو د پاره د دې چې د یخنۍ په وجه باندې ترې خوب تښتي. بعضې بزرګانِ دین رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم له چې به په عبادت کښې خوب ورتللو نو په اوبو کښې به ئې غوپه وهله او فرمائیل به ئې: دا اوبه (د دوزخیانو د) پیپ د اوبو نه کمې دي. ( لطائف المعارف ، ص 375)

## د آخرت د فِکر یو انداز

(3) حضرت زُبید یامي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ یوه شپه د تهجدو د پاره پاځیدو، د اوداسه په لوټه کښې چې ئې لاس ورښکته کړو نو اوبه ډیرې یخې وې او د یخنۍ په وجه جم کیدو ته نزدې وې. چې یخنی ئې اوشوه نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ته د دوزخ زَمهَریر[1] رایاد شو، ټوله شپه هم داسې تیره شوه او تر سحره پورې هغوئي د لوټې نه لاس رابهر نکړل. سحر چې د هغوئي وینزه راغله نو هغوئي هم په هُغه حالت کښې وو، وینزې ئې اووئیل: جناب! په تاسو

1 ... زمهریر د یخنۍ سخت شان قِسم دے کوم چې کافرانو له د عذاب ورکولو د پاره تیار کړے شوے دے. (النهاية فی غريب الاثر ، 2 / 283) دا په خپله یخنۍ باندې داسې سیزل کوي لکه څنګه چې اور په ګرمۍ باندې سیزل کوي. (تفسيرِ خازن ، سورة ص ، تحت الآية : 57 ، 4 / 47)

څه شوي دي؟ تاسو د معمول مطابق تیره شپه د تهجدو لمُونځ هم اونه کړو او هم دلته هسې ناست ئې. حضرت زبید یامي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اوفرمائیل: الله پاک دې په تا باندې رحم اوکړي، داسې اوشول چې ما لوټې ته لاس ورښکته کړل نو د یخو اوبو په وجه تکلیف شو بیا ما ته زَمهَرِیر رایاد شو، په الله پاک مې دې قَسم وي! ستا دلته د راتلو پورې هم ما د اوبو یخ والے محسوس نه کړو. (صفة الصفوة، 3/ 64)

(4) حضرت داؤد بن رُشَید رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: یو کَس په یوه یخه شپه کښې د لمُونځ په خاطر د اودس د پاره پاځیدو، اوبه ورته ډیرې یخې اولګیدلې، هغه په ژړا شو، په دې کښې ئې یو آواز واوریدو: آیا تهٔ په دې باندې راضي نه ئې؟ چې مونږ خلق اوده کړل او تهٔ مو راپاڅولې، تهٔ هسې ژاړې. ( لطائف المعارف ، ص 374)

(5) حضرت ابو سلیمان داراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زه یوه یخه شپه کښې په محراب کښې ووم. یخنۍ ډیر پریشانه کړم، ما د یخنۍ په وجه باندې یو لاس پټ کړو او بَل لاس مې خور کړو په دې کښې زما سترګې ورغلې، یو وئیلو والا وئیل: اے ابو سلیمان! په یو لاس کښې مونږ کیښودل څه چې مو کیښودل غوښتل، که دویم لاس هم وے نو په دې کښې به مو خامخا کیښودلې. حضرت ابو سلیمان داراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د دې نه پس ما د ځان سره وعده اوکړه چې که ګرمي وي او که یخني، همیشه به د دواړو لاسونو خوررولو سره دُعا کووم. ( حلیة الاولیاء ، 9 / 272 ، رقم : 13870)

## د چا د پاره چې یخني او ګرمي یو شان وه

د بعضې بزرګانِ دِین رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم د پاره به یخني او ګرمي یو شان وه. لکه څنګه چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت مولا علي شیرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د پاره دُعا اوکړله چې



www.dawateislami.net

الله پاک دې د هغوئي نه ګرمي او يخني لرې کړي. حضرت مولائے کائنات علِـيُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ به په يخنۍ کښې د ګرمۍ د موسم (نرۍ) جامې اغوستلې او په ګرمۍ کښې به ئې د يخنۍ د موسم (پيړې) جامې اغوستلې. ( حلية الاولياء ، 9 / 272 ، رقم : 13870)

يو تابعي بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ته به په يخنۍ کښې د اوبو سره په طهارت حاصلولو کښې ډير تکليف وو هغه په بارګاهِ الهیٰ کښې دُعا اوکړه نو (د هغه دعا قبوله شوه او) د يخنۍ په موسم کښې به د هغه خوا له د راوړے شوو اوبو نه تَپ ختلو. ( حلية الاولياء ، 9 / 272 ، رقم : 13870 )

حضرت ابو سليمان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د حج د سفر په وخت يو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه اوليدلو چې په سخته يخنۍ کښې ئې خرابې جامې اچولې دي او په خولو کښې ډوب دے. حضرت ابو سليمان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه حيران شو، هغوئي د بزرګ نه د دې پوښتنه اوکړه، هغه اوفرمائيل: ګرمي او يخني خو د الله پاک دوه مخلوقات دي، چې الله پاک حکم اوفرمائي چې په ما دې يخني او ګرمي راشي نو زما به يخني او ګرمي کيږي او که هغه رَبِّ کريم حکم اوفرمائي نو يخني او ګرمي به ما ته هډو رانزدې کيږي نه. هغه بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نُور اوفرمائيل: زه د ديرشو کالو نه په دې ځنګل کښې يم، الله پاک ما ته په يخنۍ کښې د خپل محبت ګرمي عطا کوي او په ګرمۍ کښې راته د خپل محبت يخني عطا کوي. (لطائف المعارف ، ص 376)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د يخنۍ په موسم کښې ډير خلق د خپلې غريبۍ په وجه د کور والؤ او بال بچ د پاره د يخنۍ نه د بچ کيدو د ګرمو جامو وغيره اخستو وَس نه لري، په داسې حالت کښې که مونږ د هغوئي مدد اوکړو نو په دې کښې زمونږ د پاره اجر او ثواب دے. په لطائف المَعارف کښې دي چې د يخنۍ په موسم کښې غريبانانو له د يخنۍ نه د بچ کيدو څيزونه ورکول ډير فضيلت والا عمل دے. (لطائف المعارف ، ص 376)



www.dawateislami.net

## د یو قمیص په بدل جنت ته داخله

د حضرت سلیمان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه بیان دے چې په شام والؤ کښې یو ګس راغے او اوئې وئیل: ما ته د حضرت صفوان بن سُلیم زُهري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په باره کښې اووایه، ما هغه جنت ته په داخلیدو لیدلے دے. پوښتنه مې ترې اوکړه په څه وجه؟ هغه اوفرمائیل: چا ته د قمیص اغوستلو په وجه. حضرت صفوان بن سلیم زهري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ته چا د دې قمیص په باره کښې ذِکر اوکړو نو هغوئي اوفرمائیل: یو ځل زه په سخته یخنئ کښې د شپې د جُمات نه ووتلم نو په یو بربنډ (بے جامو) ګس باندې مې نظر پریوتو، ما خپل قمیص ویستلو او هغه ته مې واغوستلو. (لطائف المعارف ، ص 376)

## نیک وزیر

یو نیک وزیر ته اووئیلے شو چې د یوے زنانه خلور یتیمانان بچي په تن جامې نه لري او وَږي هم دي. وزیر یو ګس ته حکم اوکړو چې فوراً لاړ شه او هغوئي له د ضرورت جامې او خوراک وغیره ورکړه. بیا وزیر خپلې (ګرمې) جامې ویستلې او قَسم ئې اوخوړو چې په خدائے مې دې قَسم وي! زه به تر هٰغه وخته پورې جامې نه اغوندم او نه به ځان ګرمووم تر څو پورې چې دا ګس واپس رانشي او ما ته دا اونه وائي چې هغه یتیمانانو جامې اغوستې دي او هغوئي ئې ماړه کړي دي. هغه ګس لاړو او چې کله واپس راغے او اووئیلے شو چې یتیمانانو جامې اغوستې دي او خوراک ئې کړے دے او ماړه شوي دي بیا هغه نیک وزیر خپلې (ګرمې) جامې واغوستلې. نیک وزیر هغه وخت د یخنئ نه رپیدلو. (لطائف المعارف ، ص 378)



www.dawateislami.net


الله پاک دې مونږ له هم د غریبانانو، یتیمانانو د ضرورتونو د خیال ساتلو او د هغوئي سره د ښه سلوک کولو توفیق راکړي او د جُمادَی الأُولٰی او جُمادَی الأُخرٰی په میاشتو کښې دې چې موسم هر څنګه هم وي د ښه ډیرو عبادتونو کولو توفیق عطا کړي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د راتلونکې هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداگران پراڼي سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net